<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**سوډان په وینو لړلی دی او د مرستې چیغې وهي... د ښځو او ماشومانو د ژغورلو څوک یې شته؟**

(ژباړه)

د ۲۰۲۳م کال، د اپریل په ۱۵مه، په خرطوم کې د پوځ او چټک غبرګون ځواکونو ترمنځ جګړه وشوه. آر تي انلاین د فرانس پرس خبري اژانس په حواله لیکي: «په خرطوم کې د پوځ او چټک غبرګون ځواکونو ترمنځ نښتې روانې دي؛ په ورته وخت کې یوه مرستندویه سازمان د بېځایه شوو په کمپونو کې په شري (سرخکان) او خوارځواکۍ د ماشومانو د اخته کېدو او پر ښځو د جنسي تېري په اړه خبرداری ورکړی.» دغه سازمان پر خپله ټویټر پاڼه راپور ورکړی چې «۹ کمپونه د سلګونه زرو خلکو کوربه‌توب کوي چې ډېری یې ښځې او ماشومان دي.» دوی خبرداری ورکړی چې د شري د شکمنو پېښو او د ماشومانو د خوارځواکۍ له امله «حالت نازک دی». دوی زیاتوي: «د جون له ٦مې تر ۲۷مې، موږ د ۲۲۳ هغو ماشومانو درملنه وکړه چې د شري ناروغۍ شک وربانديې و؛ ۷۲ ماشومان بستر شول او ۱۳ نور په هغه کلینیک کې مړه شول چې موږ مرسته ورسره کوو.» له بل لوري، د ښځو او ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په برخه کې دولتي واحد راپور ورکړی چې په خرطوم او دارفور -په ځانګړي ډول د لوېدځ دارفور ایالت په مرکز، الجنینه ښار کې- پر ښځو د جنسي تیري پېښې ثبت شوې دي. دغه واحد شنبه پر خپله فسبوک پاڼه په یوه خپره شوې بیانیه کې ویلي: «په خرطوم کې د جنسي تیري ټولټال ۴۲ قضیې وې او په الجنینه کې د جګړې اړوند جنسي تېري ۲۱ قضیې ثبت شوې دي.» دوی زیاته کړې چې ډېری دغه قضیې د چټک غبرګون ځواکونو پر وړاندې ثبت شوې. یاد واحد وړاندې د سویلي دارفور په مرکز، نیالا ښار کې د جنسي تیري ۲۵ پیښې ثبت کړې وې. د اپرېل له ۱۵مې راهیسې سوډان د عبدالفتاح البرهان په مشرۍ پوځ او د محمد حمدان قلو (حمیدتي) په مشرۍ چټک غبرګون ځواکونو ترمنځ د جګړې شاهد دی. په دغې جګړه کې تر اوسه ۲۸۰۰ کسان وژل شوي او تر ۲٫۸ میلیونو زیات سوډانیان بېځایه شوي.

د دغو شخړو بیه د سوډان ښځې او ماشومان پرې کوي او په پایله کې یې همدوی د ذلت خوند څکي. هېڅ امنیت او خوندیتوب نشته. نښتې په هېواد کې د ګډوډیو او ناکراریو سبب شوې او خلک په وېره او ناامنۍ کې ژوند کوي.

**اې په سوډان کې زموږ خلکو:** ایا کله مو فکر کړی چې له دغو نښتو څوک ګټه اخلي، څوک یې اور ته لمن وهي او ولې؟ د هغو خلکو تر شا څوک دي چې جلا کېدل غواړي، سوډان ټوټه کوي او د دښمنانو لپاره یې پر یوه اسانه هدف بدلوي؟ ومو نه لیدل چې استعماري دولتونو، د هغوی سفارتونو، سازمانونو او ټولنو څنګه مداخلې وکړې

چې دغه لاسته راوړنې په خپل لاس کې واخلي او تر هغه پورې خپلې اجنډاوې پلي کړي چې ملت کمزوری شي او د دوی په منګولو کې ښه ټینګ شي؟

**اې مسلمانو علماوو:** کله چې په دغو شخړو کې ستاسو پر زامنو، ماشومانو او ښځو داسې ناوړه وضعیت تېرېږي؛ تاسو چېرته وئ؟ ستاسو د ورونو ترمنځ جګړه لا روانه ده؛ خو تاسو چوپ یئ؛ نه یې مخه نیسئ او نه یې د حراموالي دلیل راوړئ.

**اې د سوډان په پوځ او د چټک غبرګون ځواکونو کې مخلصینو:** په تاسو کې دومره هوښیار څوک نشته چې سمې لارې ته مو برابر کړي او د سوډان خلک د خوندیتوب خواته بوځي!؟ په تاسو کې دومره څوک نشته چې د دوی دفاع او ساتنه وکړي او د هغه څه پر بنسټ حکومت وکړي چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي؟ که داسې وکړئ نو ټول به دربانديې راټول شي او الله تعالی به مو مرسته وکړي.

**اې په سوډان کې زموږ خلکو:** د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې په توګه موږ په سوډان کې د خپلو خویندو او ماشومانو د حالت په لیدو ځورېږو او دغه کړنې په کلکه غندو. موږ پر تاسو غږ کوو چې د خپل حرمت او عزت دفاع وکړئ؛ د دې لپاره له حزب التحریر –یو داسې رهبر چې خپلو خلکو ته درواغ نه وایي- سره د نبوت پر منهج راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره ګډ کار وکړئ چې د الله سبحانه و تعالی شریعت حاکم شي او د دنیا او اخر عزت موږ په برخه شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالحجې۱۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د جولای ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۴۴/ ۱۴۴۴**

**ژباړه: فریدون محتاط**